AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

نظر محمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۱/۲۵

# د طلوع ټلویزون او ښاغلي کرزي د پلویانو ترمنځ جګړه

لینن ویلي وو چې موږ هغو مطبوعاتو ته عقیده لرو چې د کمونسټ ګوند له خوا اداره کیږي
اوس هم د ازادي څخه د بیان په نوم، د ډیموکراسي او مدني حقونو تر نامه لاندي زموږ د هیواد مطبوعات د ځانګړو کړیو او ځانګړو هیوادونو د ځانګړو شبکو له خوا اداره کیږي، ځیني یې د امریکا او غرب په ګټه، ځیني یې د ایران او اهل تشیع په ګټه، ځیني یې د پاکستان په ګټه او کم شمیر یې د هند او روسیي په ګټه تبلیغات او خپروني لري.
په ۲۰۰۹ ز کال کې میرمن کلنټن ښاغلي ولسمشر کرزي ته د امریکا د حکومت پیغام ورساوو چې امریکا ښاغلي قسیم فهیم د ولسمشر د لومړي مرستیال په توګه نه شي منلای، دا ډول جنرال عبدالرشید دوستم هم امریکا نور نه شي زغملای چې په افغان حکومت کې د واک څښتن وي
کله چې په ۲۰۰۹ ز کال کې ټاکني د ښاغلي ولسمشر کرزي په ګټه اعلان شوې او لومړی مرستیال یې ښاغلی قسیم فهیم وټاکل شو، د ښاغلي اوباما له خوا بیا ځل پیغام ورته ورسیدی چې زما په دوره کې ښاغلی قسیم فهیم او رشید دوستم امریکا ته نه شي زغملای او هیڅکله به د امریکا ویزه دوی ترلاسه نه کړي.
له همدې امله وو چې ښاغلي فهیم د زړه د تداوي له پاره کلونه وړاندي جرمني ته ولاړی، او بیا یې د مرګ اوازه ځینو رسنیو خپره کړه، فکر کیږي چې دهغه د مرګ اوازه به هم ځینو ځانګړو رسنیو په هغه وخت کې د پلان له مخې خپره کړې وه.
ځیني راپورونه وایي چې اوسمهال بیا ښاغلي قسیم فهیم د صحي ستونزو له امله جرمني ته تللی دی.
ویل کیږي چې ښاغلي ولسمشر کرزي او ښاغلي فهیم بیا ځل هوډ کړی چې واک په خپل لاس کې وساتي.
په ۲۰۰۹ ز کال کې د ټاکنو پر مهال طلوع ټلویزون بیا هغه څه خپرول چې د ښاغلي کرزي او ښاغلي فهیم په ګټه نه وو، او له دي مخکي هم د طلوع ټلویزون او افغان حکومت د ځینو ځانګړو ادارو تر منځ ستونزې پیداشوې وي، په هر وار طلوع ټلویزون ګټندوی وو، او حکومت بایلونکی.
په ۲۰۰۷ ز کال کې د لوی څارنوال عبدالجبار ثابت او طلوع ټلویزون تر منځ ستونزه را پیداشوه، لوی څارنوال د ټلویزون د مشر د نیولو امر وکی، دا ډول یې ځیني وسلوال هم طلوع ټلویزون ته واستول، ډیر ژر د امریکا د سفارت له خوا ثابت وپوهول شو چې داکار به یې په تاوان وي، هم هغسي هر څه پټ پاتي شول.
په ۲۰۰۲ ز کال کې یوه شمیر افغان روڼ آندي د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزات ته ورغلل، هلته یې د افغانستان او پاکستان د چارو کارپوه ښاغلي ماروي Marvin Whbum سره ناسته درلودله، ویل کیږی چې ماروین له ډیر پخوا څخه د افغان جهاد پرمهال هم د افغانستان او پاکستان په چارو کې فعال وو، د امریکا د استخباراتو سړی وو، همدغه افغان ډلي ته یې ویلي وو چې موږ غواړو په افغانستان کې ښاغلي سعد محسني ته راډیو فعاله کړو.
په ۲۰۰۳ ز کال کې د ارمان ایف ام په نوم راډیو جوړه شوه چې ۲۴ ساعته خپروني یې درلودلي او په ټوله کې یې پر موسیقي زور ؤ.
داچې د طالبانو حکومت نوی له منځه تللی وو، افراطي افغان ځوانانو به د روژي په مبارکه میاشت کې حتی د پشلمي پر وخت هم د همدغي راډیو له سندرو څخه خوند اخیست، ویل کیږي چې په دغه کار سره بهرنیانو د طالبانو د هغه عمل عکس العمل ښودی چې ولي طالبانو موسیقي د خپل حکومت پر مهال بنده کړي وه.
په ۲۰۰۴ ز کال کې طلوع ټلویزون ازمایښتي خپروني پیل کړي، د انګلیس فیتر په وینا چې په لومړي ځل د طلوع ټلویزون اداري د USAID څخه ځلور میلیونه ډالر ترلاسه کړل.
ښاغلي ولسمشر کرزي څو ځله د طلوع ټلویزون د خپرونو اړوند خپل قهر او غصه ښکاره کړي ده، ولي نه دی توانیدلی چې پر یاد ټلویزون زور راولي، برعکس پر نورو ټلویزونو کله ناکله حکومت خپله خوښه او غوښتنه مني.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د طلوع ټلويزون يوه ځانګړنه داهم ده چې ددغه ټلويزون مشران د نورو ټلويزونو د مشرانو په ډول معلوم نه دي، په عامو غونډو کې نه راڅرګندېږي، او دا ډول د طلوع ټلويزون څخه د خپل شهرت کار نه اخلي، داسي معلومېږي چې ډېر ژور خلک دي.

د طلوع ټلويزون اوسنی تګلاره او خپروني داسي دي چي عام خلک يي نه شي تحليل کولای، او نه هم پرې پوهېږي چي د دوی هدف څه دي؟ خو کاميابي يي په دي کې ده چي په هيواد کې دننه او له هيواده بهر ډېر زيات ليدونکي لري.

اوسمهال طلوع ټلويزون د ښاغلي کرزي ضد دي، د طالب او حکمتيار ضد دی، د نړيوالو قواوو طرفداري کوي، له هر ځای څخه راپور چمتو کوي، واليانو ته سپيني او ستغي خبري کوی، ولايت په ولايت د ټاکنو پروګرامونه جوړوي

کلونه وړاندې کله چې ښاغلی عبدالکريم خرم د اطلاعاتو او کلتور وزير ؤ، هڅه شوې وه چې طلوع ټلويزون په يو ډول د دولت تر کنټرول لاندې راوستل او کمزوری شي، ځينو د رسنيو کارپوهانو نظر ورکړی وو چې په رسنيو د څار کميسون دي جوړ شي، په ټلويزونو او رسنيو به څارنه کوي، د دي کار له پاره ځانګړې فورمه چمتو شوه چې د هرې رسنی څخه يي تګلاره، تشکيلات، بودجه، خپل عوايد او د مرستې عوايدو د ثبت کولو غوښتنه کړي وه.

د ګردو ټلويزونو او رسنيو ادارو د اطلاعاتو کلتور وزارت ياده فورمه ډکه او ثبت کړه، لويي څارنوالي ته د رسنيو د معلوماتو فورمي وليږل شوې، يواځنی ټلويزون چي فورمه يي ډکه نه کړه او نه يي د اطلاعاتو کلتور غوښتنو ته غاړه کيښودله طلوع ټلويزون وو.

داسي معلومېږي چي له ډېره وخته د طلوع ټلويزون او کمزوري افغان حکومت تر منځ نا اعلان شوې جګړه پيل شوې وه

څه موده وړاندې ولسمشر کرزي د لويي څارنوالي څخه وغوښتل چي د طلوع ټلويزون هغه اعلان وڅېړي چي د افغانستان او امريکا تر منځ د امنيتي تړون د ژر لاسليک کولو غوښتنه پکې له ولسمشر څخه شوې، او د اعلان خپرو پر طلوع ټلويزون بند کړي، طلوع ټلويزون د ښاغلي ولسمشر له فرمان وروسته هم په دوامداره ډول هغه پخوانی اعلان نشر ته سپاری، افغان حکومت ته يي اخطار ورکړ که د ټلويزون پر اداره فشار راولي، طلوع ټلويزون به ډېر نور پټ او دافغان حکومت اړوند اسناد څرګند کړي.

شنونکي په دي آند دي چي طلوع ټلويزون د افغان حکومت د لوړ پوړو چارواکو اړوند هر ډول پټ اسناد په اساني سره تر لاسه کولای او نشر کولای شي.

همدا د پټو اسنادو خبره د ښاغلي داؤد سلطان زوی په اړه هم کېږي، ويل کېږي چي کله دهغه نوم د ټاکنو کميسون په لومړي لسټ کې د ۱۳۹۳ ل کال نوماندو ولسمشرانو له لسټ څخه وايست، ګواښ يي کړی وو که دده نوم په لسټ کې شامل نه شي، نو د ځينو نوماندانو او حتی د ولسمشر د نږدې کسانو اړوند به داسي پټ اسناد ښکاره کړي چي تر اوسه به خلکو نه وي ليدلي.

ښاغلي داؤد سلطان زوی هم په طلوع ټلويزون کې کار کاوو، او هلته يي مهم سياسي پروګرام پر مخ وړی، له بهرنيانو سره يي نږدې کاري او سياسي اړيکي درلودلي، اوس چي طلوع ټلويزون هم ورته ګواښ کړی، داسي معلومېږي چي د طلوع ټلويزون پټ اسناد په واک کې لري.

په غير مستقيم ډول د طلوع ټلويزون د کمزوري کيدو په موخه ځيني نور ټلويزونونه هم فعال شول، هغوی هڅه وکړه چي د طلوع ټلويزون تر سيوري لاندي راولي، يو وخت داسي هم وشول چي کابل نيوز ټلويزون ډېر پرمختګ وکی، ډېر ليدونکي يې پيداکړل او پرېمانه پيسي يي مصرف کړي، خو ونه توانيدل چي د طلوع ټلويزون مقابله وکړي، دا ډول ژوندون ټلويزون هم چي فکر کيدی ډېر مسلکي به وي، او پرمختګ به وکړي، هغه هم هغه ډول چي د روڼ آندو تمه وه، ونه شوای کولای چي مينه وال او ليدونکي پيداکړي.

شمشاد ټلويزون هم ښه دی ليدونکي لري، دغه اداره بيا هڅه کوي چي بيلانس وساتي، نه دامريکا سفارت خفه کړي او نه هم ولسمشر کرزي او دده ټيم خفه شي.

اريانا ټلويزون چي پرېمانه پيسي لري، په هيواد کې د نورو ټلويزون په پرتله زيات مصارف کوي، زياتي پيسي لګوي، د نامعلومو عواملو له امله نه دی توانيدلی چي طلوع او يک ټلويزونو ته ماتې ورکړي.

اوسمهال په کابل کې يواځيني ټلويزون چي د طلوع ټلويزون مقابله کوی، يک ټلويزون دی، له څه مودې راهيسي ډېر فعال شوی، داسي فکر کيږي چي د طلوع او يک تګلاره به په لوی سر کې يوه وي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شنونکي په دي آند دی چي د طلوع ټلويزون فلج کول د ښاغلي کرزي د واک د دوام په معنی ده، که طلوع ټلويزون له منځه ځي، د کرزي صاحب او د ده د کورنۍ او ټيم واک به د نورو پنځه کلونو له پاره هم غځول کيږي
دا ډول د طلوع ټلويزون يوطرفه څيړني او له بهرنيانو څخه په پټو سترګو ملاتړ، د امنيتي او دفاعي تړون د لاسليک له پاره له افراطه ډک نظرونه خپرول هم شنونکي د افغان ولس په ګټه نه بولي.
د طلوع ټلويزون کمال په دي کي دی چي په هره سيمه او هر ځای کي خبريالان او راپور ورکوونکي لري، تر ټولو ټلويزونو او رسنيو مخکي خبر خپروي، راپور په خپل وخت چمتو کوي، همدغه لامل دی چي که څوک غواړي يانه غواړي د طلوع ټلويزون خبرونه او پروګرامونه به ويني، او د ټلويزون کاميابي داده چي ليدونکي ولري.
د ولسمشر کرزي ګډون د جنوری ۲۱مه ۲۰۱۴ د بيات د رسنيو د مرکز BMC او د آريانا نيوز د افتتاحيه مراسمو کي، د آريانا ټلويزون په اړه يي څرګندوني چي ملي ګټو ته ژمن ټلويزون دی، هم د طلوع ټلويزون او افغان حکومت تر منځ د جګړي له امله ګڼل کيږي.
ښاغلی کرزی چي په ډيرو غټو مراسمو کي هم دامنيتي ستونزو له امله ګډون نه کوي، د بيات د رسنيو د مرکز او آريانا نيوز د پيل په مراسمو کي به يي په دي خاطر ګډون کړی وي چي د خلکو پام د دغه ټلويزون ليدو، خبرونو، سياسي بحثونو او پروګرامونو ته راواړول شي.
که څه هم د بيات د رسنيو مرکز او آريانا ټلويزون هم د امريکا څخه سرچينه اخلي، طلوع ټلويزون هم د امريکا په مټ قوي شوی، بيا هم د لته هغه سوال دی چي ځيني امريکايان په افغانستان کي د جګړي د دوام طرفداره دي او ځيني امريکايان بيا غواړي چي په افغانستان کي د امريکا جګړه پای ومومي، جمهوري غوښتونکی د يو لوري او ډيموکراټان د بل لوري ننګه او حمايت کوي.
د طلوع ټلويزون اداره ډيره پراخه ده، په مخلتفو نومونو ټلويزونونه، راډيوګاني او انترنيتي سايټونه لري، د طلوع، طلوع نيوز، لمر، ارمان ايف ام، اراکوزيا ايف ام، ستاره افغان او په دوبۍ کي د زمزمه او فارسي ون په نوم د ټلويزون خپروني د ايران له پاره لري.
د طلوع اداره غواړي چي عراق، ليبيا او مصر ته خپلي خپروني وغځوي. ويل کيږي چي راتلونکي کال کي به عراق کي د طلوع تلويزيون په څير چينل جوړ کړي او زياته برخه به يي خارجي سريالونه او د ستاره افغان موډل په څير برنامي ورته ډيزاين کړي.
امريکايي څيړونکي او د امريکا تکلاره جوړونکي د طلوع اداري مشر سعد محسني د افغانستان د رسنيو پاچا بولي، وبه وينو چي ښاغلي بيات به يي مقابله وکولای شي که نه؟ افغان حکومت به د رسنيو د پاچا له پاره کوم سيال پيدا کړلای شي که نه؟
ډيری بي پرې شنونکي په دي آند دي چي د طلوع ټلويزون او ښاغلي ولسمشر کرزي د پلويانو ترمنځ جګړه د پرديو او د دوی د شخصي ګټو له پاره ده، په ټوله کي يي زيان افغان ولس ته رسيږي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ